مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۴/۰۴/۳۰

# د یهودو عادلانه جګړې

## (دېرشمه برخه)




(د اسراییلو صهیونستي دولتي ترهګرو لخوا د غزې د بې‌ګناه او معصومو ماشومانو وژل.)

**اسراییل ربښتیا غوره او سپیڅلی قوم دی؟**

د هر وګړي او هر قوم شخصیت د هغه د کړنو او اخلاقو له مخې پېژندل کېږي او د هغه د اعمالو له امله په ښه یا په بد نوم باندې یادېږي، که یو قوم د نړېوالو لپاره ښې چارې ترسره کړي او ګټه یې ټولو ته ورسېږي، طبعیي ده چې د ښه نوم او عزت ښتښن به وي.

له دوېمې نړېوالې جګړې وړاندې جرمنیان او جاپانیان تیري‌کوونکي او اشغالګر بلل کېدل خو له ۱۹۴۵ز، کال وروسته، هغه مهال چې په دوېمه نړېواله جګړه کې دواړو هېوادنو ماتې وکړه، نو د جګړو پر ځای یې صنعتي چارو ته مخه کړه چې د نړېوالو لپاره یې خورا په زړه پورې اړین توکي تولید کړل چې د خپلو صنعتي او ساینسي نوښتونو او پرمختګونو له امله په نړۍ کې هوښیار خلک بلل کېږي او اوس‌مهال په ښه نوم یادېږي.

نه یوازې دا چې په نړۍ کې د ښو کړنو او ښه خوی خلک د انسانانو لخوا ستایل کېږي، بلکې په ټولو ادیانو کې ښو ته ښه او بدو ته بد ویل شوي دي. چې په دې لړ کې د یهودو قوم یې ښه بېلګه ده چې د خپلو ناوړه او بشرضد کړنو له امله د ډېریو نړېوالو لخوا په ډېر بد نظر ورته کتل کېږي، تر دې چې زموږ په هېواد او سیمه کې، که یو څوک هر ډول ناروا کار وکړي، نو خلک وایي:**«د اسراییلو غوندې بد کار یې وکړ.»**

د نړۍ د ادیانو په دیني سرچینو کې د ښو کړنو خاوندان غوره بلل شوي دي، په ځانګړي توګه په قرآن کریم کې غوره خلک هغه څوک دي چې متقي او پرهېزکوونکي وي.[1]

خو د اسراییلو قوم د خپل دین پر بنسټ، د نورو ادیانو پر خلاف، د هغوی د بدو اعمالو له امله غوره قوم بلل شوی دی، دا ډول غوره‌والی اسراییلو ته د دوی قومي او خیالي خدای یهوه ورکړی دی، د اسراییلو خدای یهوه داسې څوک دی چې ښه په نظر بد ورځي او بد په نظر ښه ورځي چې هماغه شان د اسراییلو قوم د خپل ځانګړي خدای په ښېر کړنې ترسره کوي.[2]

---

[1]: د قرآن د حجرات سورت،۱۳آیت.
[2]: د کهف سورت:۱۰۳- ۱۰۴؛ د محمد سورت: ۱٤آیت.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د یهوه لخوا د اسراییلو غوره‌والي له هغه ځایه پیل شو چې کله اسراییل په مصر کې استوګن وو، یهوه خدای د لومړي ځل لپاره د اسراییلو قوم هغه مهال **خپل قوم** وباله چې کله یهوه، د مصر له فرعون څخه د اسراییلو د ژغورلو په موخه، موسی او هارون مصر ته واستول.
«... موسی او هارون فرعون ته ورغلل، هغه ته یې وویل: موږ د اسراییلو د خدای یهوه لخوا تا ته دا پیغام راوړی: **زما قوم پرېږده چې دښتې ته ولاړ شي او زما عبادت وکړي.**» (د هجرت کتاب:۱/۵)
د مصر فرعون د یهوه خدای پیغام ته اهمیت ورنه کړ نو یهوه خدای وویل:«... خو زه به په وژونکي ګزار سره مصر په ګونډو کړم او **خپل قوم، بني اسراییل** به له مصر څخه بهر کړم.» (هجرت:۴/۶)

سره له دې چې یهوه خدای له بتانو او بت‌پرستانو ډېره کرکه کوله، بت‌پرستي تر ټولو لوی ګناه ؤ. یهوه خدای ابراهیم (ع) له دې امله غوره کړی ؤ چې د خپل بت‌پرست پلار بتان یې مات کړي وو. خو له بده مرغه د یهوه خدای عدالت او انتخاب د اسراییلو د قوم په هکله داسې ؤ چې **اسراییل یې په داسې حال کې خپل قوم وباله او غوره یې کړ چې د مصریانو په څېر یې د بتانو عبادت کاوه او یهوه خدای یې نه پېژاند، تر هغې چې د یهوه نوم یې هم نه پېژاند** چې هغه مهال د اسراییلو، د مصر فرعونیانو او په سیمه کې د میشتو بت‌پرستو قومونو تر منځ هېڅ توپیر نه ؤ. په مصر کې د اسراییلو د بت‌پرستۍ په اړه د اسراییلو نبي حزقیال د یهوه خدای له قوله وایي:«له هغه ځایه چې د اسراییلو قوم مې غوره کړ او په مصر کې مې ځان ورښکاره کړ... نو دوی ته مې وویل: **خپل د خوښې او کرکجن بُتان له ځانه لیرې کړئ، د مصر د خدایانو د عبادت له امله ځانونه مه ناولي کوئ، ځکه چې زه یهوه د دوی خدای یم خو دوی یاغي شول، زما خبرو ته یې غوږ ونه نیو او د خپلو بُتانو او د مصر د خدایانو له لمانځلو منع نه شول** نو ومې وغوښتل چې **خپل قهر او غضب همهلته په مصر کې پرې نازل کړم** خو د خپل نوم د درناوي د ساتلو لپاره مې دا کار ونه کړ، ځکه چې مصریان به د اسراییلو پر خدای پورې ملنډې ووهي او وبه وایي چې هغه ونه کړای شول دوی له زیان او بلا وژغوري.» (د حزقیال کتاب:۴/۲۰تر۱۰پورې)
دا شان په مصر کې د اسراییلو بت‌پرستۍ (یوشع) نبي په یوه وینا کې اسراییلو ته وریادوي وایي:«هغه بتان چې یو مهال ستاسو نیکونو د فرات سیند ها خوا [په عراق کې] **او په مصر کې لمانځل، له ځانه لرې کړئ** او یوازې د یهوه خدای عبادت وکړئ.» (د یوشع کتاب:۱۴/۲۴)
د یهودو په دیني سرچینو کې راغلي چې یهوه خدای اسراییل له دې کبله غوره کړل چې دوی د مصریانو تر ظلم او شکنجو لاندې وو، د دوی زامن یې وژل او لوڼه یې ژوندۍ پرېښودلې، یهوه موسی ته په لومړي ملاقات کې وویل:**«ما په مصر کې د خپلو بنده‌ګانو زوروني او کړاوني ولیدلې او د هغوی نارې سورې (چې له غلامۍ څخه د ژغورلو په موخه یې کولې) واورېدلې،** اوس راغلی یم دوی د مصریانو له ینجو آزاد کړم، له مصر څخه یې بهر کړم او پراخې او ودانې ځمکې (چې شیدې او ګبینه په کې بهیږي) ورسوم، هغه هېواد چې په هغوی کې کنعانیان، حیتیان، اموریان، فرزیان، حویان او یبوسي قبایل اوسیږي.
هو، د بني اسراییلو نارې سورې زما غوږونو ته رسیدلي دي[3]، هغه ظلم چې مصریان پر دوی کوي زما له لید څخه پټ نه دی، اوس تا زه فرعون ته ورلیږم چې زما قوم له مصر څخه بهرکړئ.» (هجرت:۷/۳تر۱۰پورې)
د یهوه خدای لخوا د اسراییلو د قوم غوره کولو یو دلیل دا هم وایي چې یهوه له اسراییلو سره مینه درلوده او د اسراییلو له پلرونو:(ابراهیم، اسحاق او یعقوب) سره یې د خپلې کړې ژمنې پلې کول هم په پام کې وو چې په تړاو یې موسی په خپله وینا کې وایي:«... دا چې تاسو سپېڅلی قوم یاست او د یهوه خدای لپار ځانګړی شوی یې، هغه [یهوه] د ځمکې پر مخ د ټولو خلکو له منځه تاسې غوره کړی تر څو تاسې د هغه غورشوی [قوم] وئ. تاسو د ځمکې پر مخ له ټولو قومونو څخه وړوکی قوم وې، نو هغه [یهوه] له تاسو سره له دې کبله مینه نه لرې او نه یې غوره کړې یاست چې له نورو قومونو څخه لوی قوم یې، **بلکې په دې دلیل چې له تاسو سره یې مینه درلوده او غوښتل یې هغه ژمنه چې ستاسو له پلرونو سره یې کړې وه پر ځای کړي... .»** (ګردان:۶/۷تر۸پورې)

[3]: دا ډول د مرستې نارې د هغه ښار اوسیدونکو لخوا چې لوط په کې اوسیده د یهوه خدای غوږ ته هم رسیدلي وې چې د لواطت له امله یې د سدوم او عمورې ښارونه وران کړل:«یهوه خدای ابراهیم ته وویل: د سدوم او عمورې ښارونو د ظلم پر خلاف نارې سورې پورته شوي دي او د دوی ګناهونه ډېر شوي دي، غواړم لاندې ولاړ شم، هغه [د مرستې] نارې چې زما غوږ ته رسیدلي دي ځان ورسوم.» (پیدایښت:۸/۲۰-۲۱)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولــئ

«ځمکه او آسمان ستاسو د خدای، یهوه دي، **سره له دې هغه [یهوه] ستاسو له پلرونو (چې تاسې د هغوی زامن یاست) دومره مینه درلوده او پرې ګران وو چې تاسې يې غوره کړئ** تر څو له ټولو ملتونو لوړ پاتې شئ، لکه نن چې څرګنده ده.» (ګردان:۱۰/۱۴-۱۵)

## غوره قوم په قرآن کې

اسرایل چې له قرآن کریم څخه منکر او د آسماني کتاب په توګه يې نه مني خو د خپلو سیاسي، پوځي او دیني ګټو لپاره د قرآن کریم ځیني آیتونه د مسلمانانو د پرې او ملامتولو په موخه دلیل راوړي چې په هغو کې هغه آیتونه چې په قرآن کریم کې اسراییل غوره قوم یاد شوی دی زموږ لپاره وړاندې کوي.
په قرآن کریم کې د اسراییلو او ځینو عربي قبایلو ستر نیکه ابراهیم (ع) د خدای (ج) غوره کړای شوی کس بلل شوی دی چې د خپل بت‌پرست پلار او بت‌پرست قوم له ګروهې سره مخالف ؤ او د دوی بتان یې مات کړي وو، سربېره پر دې الله تعالی ابراهیم (ع) د خپل زوی اسماعیل په ذبحه کولو هم وازمایل شو چې ابراهیم (ع) په‌خپلو ټولو ورسپارل شویو چارو کې بریالی شو، نو لوی ښتن هغه پر ټولو نړېوالو لوړ او غوره وباله:
**﴿وَلَقَدِ ٱصْطَفَيْنَـٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ﴾**
ژباړه:«**او موږ هغه (ابراهیم) په نړۍ کې غوره ګرځولی وو** او په اخرت کې به هم د نېکانو په ډله کې وشمېرل شي.» (بقره:۱۳۰)

د لوی ښتن لخوا د ابراهیم (ع) له غوره کولو وروسته د اسراییلو د قوم د غوره کولو په اړه په قرآن حکیم کې څو ځله یادونه شوي ده وایي:

**﴿يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ﴾**
ژباړه:«ای بني اسراییلو! هغه نعمتونه یاد کړئ چې تاسو ته مې درکړي وو، او تاسو مې (په خپله زمانه کې) د نړۍ پر ټولو قومونو غوره کړي وی.» (بقره:۴۷ او ۱۲۲آیتونه)

**﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَـٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَـٰتِ وَفَضَّلْنَـٰهُمْ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ﴾**
ژباړه:«موږ بني اسراییلو ته کتاب، حکومت، بنوت او پاکیزه روزي ورکړه او هغوی ته مو پر نړېوالو فضلیت ورکړ.» (جاثیه:۱۶)

په قرآن کریم کې د اسراییلو د قوم د غوره والي په اړه اسلامي پوهان په دې اند دي چې د اسراییلو غوره‌والي په هره زمانه پورې اړه نه لري، بلکې په یو ځانګړي او محدوده زمان پورې تړاؤ لري چې یوازې د مصر له فرعونیانو څخه غوره قوم ؤ چې پر دوی يې سخت ظلمونه کول. وایي چې د اسراییلو غوره کول له دې امله وو چې هغوی ته، الله (ج) ډول، ډول نعمتونه ورکړي وو لکه: د تورات کتاب [لس فرمانونه]؛ حکم (نظم او حکمت) نبوت (پیغمبران) او پاک خواړه (من او سلوا) او په تورات کې تر ټولو مهم اړخ د اسراییلو لپاره د توحید موضوع وه چې هغه مهال په نورو قومونو کې د بتانو لمانځې ترسره کیدلې او یوازې د یوه خدای (ج) د لمانځلو ویاړ اسراییلو ته ورکړای شوی وو... .

د اسلامي پوهانو پر لیدلوري سربېره، زما خپله پوهه دا وایي چې په قرآن حکیم کې د اسراییلو د غوره قوم خبر، د ټولو اسراییلو په هکله نه دی راغلی، یوازې پر یو شمېر ځانګړو اسراییلو پورې اړه لري، هغوی چې د الله تعالی احکام يې منلي او پلي کړي دي چې هغه د اسراییلو په قوم کې د ننه د لاویانو[4] د قوم یو شمېر کسان وو چې د

---

[4](لاوی) د یعقوب دریم زوی او د یعقوب د ښځې (لیې= لیه) څخه زیږېدلی ؤ؛ موسی او هارون هم د لاویانو له قوم څخه وو.
یعقوب په خپله وروستنۍ وینا کې چې خپلو زامنو ته يې کړې وه او د هغوی کړنې او خویونه يې څرګند کړي دي چې په هغو کې يې خپلو دوو زامنو هر یو: لاوي او شمعون ته داسې ویلي دي:«شمعون او لاوی! تاسې دواړه د یو بل په څېر یاست، بې‌رحمه او بې‌انصافه کسان یاست، زه به هېڅکله ستاسو په ناولو نقشو کې برخه وانخلم، ځکه چې د خپل قهر له مخې مو انسانان ووژل او په خپل سر مو د غواګانو پښې غوڅې کړې. لعنت دې ستاسو پر قهر وي چې دا ډول سخت او بې‌رحمه ؤ، زه به ستاسو نسلونه د اسراییل په هېواد کې خواره واره کړم.» (پیدایښت:۴۹/۵تر۷پورې)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اسراییلي د بت‌پرستانو پر خلاف یي خونړۍ کړنې ترسره کړي او د خدای غوره کړای شوی قوم بلل شوی دی، هغه هم د یوې مودې لپاره. چې د ثبوب لپاره یي د قرآن مجید او تورات لاندي دلایل وړاندي کوو:
د تورات د هجرت په کتاب کي راغلي چي کله موسی د سینا غره ته له یهوه خدای سره د ملاقات په موخه تللی ؤ، اسراییلو له هارون څخه وغوښتل چې د خوسکي بت ورته جوړ کړي. خو چې موسی له غره څخه راکوز شو نو سخت په قهر شو او هغه د تورات (لس فرمانونه) چې د تیرو پر دوو تختو باندي په‌خپله د یهوه خدای لخوا لیکل شوي وو، وغورځول او هغه تختي ماتي شوې، هغه وو چې د لاویانو قوم د ده تر څنګ ودرید او ډېر شمېر اسراییل چې د لاویانو ورونه او زامن هم په کي وو ووژل:«کله چې موسی ولیدل چې [د اسراییلو] قوم د هارون په مرسته [د اطاعت] پړي شکولي دي او د دښمنانو پر وړاندي یي ځانونه شرمولي، نو [موسی د اسراییلو د پنډغالي] په وره کي ودرید، ویي ویل: څوک چې د یهوه خدای پر لور دي زما خوا ته دې راشي. د لاویانو ټوله ډله پر هغه راټوله شوه، موسی ورته وویل: د بني اسراییلو خدای یهوه وایي: توري پر ملا وتړئ، د پنډغالي له یو سر څخه تر بل سر پوري ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او خپل ګاونډی ووژنئ. لاویانو اطاعت وکړ او په هغه ورځ یي دري زره اسراییل ووژل.
موسی لاویانو ته وویل: تاسو نن ورځ وښودله چې د یهوه خدای د خدمت کولو وړ یاست، **سره له دې چي پوهیدلي چي ستاسو اطاعت د خپلو ورونو او زامنو [د مرګ] په بیه تمامیږي خو د یهوه خدای له امر څخه مو سرغړونه ونه کړه**، نو یهوه خدای به تاسو ته برکت درکړي.» (هجرت:۳۲/۲۵تر۲۹پوري)
د اسراییلو لخوا د خوسکي د لمانځلو او د اسراییلو تر منځ د وژنو په اړه په قرآن کریم کي مالومات راغلي چي له هغو څخه د اسراییلو د خپل‌منځي وژنول په هکله وایي:

**﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ﴾**
ژباړه:«کله چي موسی خپل قوم ته وویل:«ای زما قومه! تاسو په خدایی سره د خوسکي په نیولو پر خپلو ځانونو سخت ظلم کړی دی، نو توبه وباسئ **او په خپلو کي سره ووژنئ.»** (د بقرې سورته: ۵۴)

یهوه خدای هارون ته د لاویانو د غوره کولو په هکله وایي چي **«ما د اسراییلو له منځه لاویان چي ستا خپلوان دي، غوره کړي دي**، هغوی چي ما ته وقف شوي دي، تا ته یي ډالۍ کوم چي د عبادت په کېږدۍ کي دندې ترسره کړي.» (د شمېر کتاب:۱۸/۶-۷)
د اسراییلو کاهنان او د یهوه خدای د عبادت د کېږدۍ او معبد خادمان د لاویانو له قوم څخه وو چې پرته له دوی څخه بل چا حق نه درلود د عبادت کېږدۍ یا معبد ته ننه وځي.[5]
دغو لږ شمېر غوره شویو اسراییلو ته په قرآن کي اشاره شوي چي الله تعالی له بني اسراییلو څخه د ښو کړنو او د الله (ج) د عبادت ژمنه اخیستي وه خو اسراییلو ژمنه ماته کړه او لږ شمېر اسراییل په‌خپله ژمنه ټینګ پاتي شول. د قرآن د بقرې سورت ۸۳ آیت په ورروستی برخه کي راغلي:

**﴿ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ﴾**
ژباړه:«... بیا وګرځېدی تاسي (له خپلې ژمني) **مګر (ونه ګرځیدل) لږ (کسان) له تاسي څخه**، حال دا چي هم دا تاسي مخ‌اړوونکي یاست.» (بقره:۸۳)

په قرآن حکیم کي دا ډول یوه بېلګه د مسلمانانو د یوې ډلې په اړه هم یاده شوې ده چې د اسلام په لومړیو کي الله تعالی د عربو په قوم کي یوه ډله کسان غوره کړي وو او قرآن کریم یي خپلې **یوې غوره کړي ډلې مسلمانانو ته ورکړی ؤ**، الله (ج) په لاندې آیت کي یو شمېر کسان خپله غوره کړي ډله بولي وایي:
**﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا﴾**
ژباړه؛«بیا وارثان کړل موږ د دې کتاب **هغه کسان چي غوره کړي وو موږ په بندګانو کي.»** (فاطر:۳۲)

له پورته مالوماتو څرګندیږي چي د اسراییلو هغه بت‌پرستان چي د اسراییلو قومي خدای یهوه لخوا غوره او سپیڅلي بلل شوي دي، د ربښتنی لوی څښتن الله (ج) لخوا نه دي غوره شوي او یوازې د الله تعال لخوا د لاویانو د قوم ځیني کسان (چي بت‌پرستان نه وو) غوره ګرځول شوي وو، نه د اسراییلو بت‌پرست قوم. د لاویانو دا غوره‌والی یوازې د دوی د توحید له امله وو، **د اسراییلو د توکم او ذات له امله نه ؤ.** او لږه موده ورروسته لاویانو هم خپل غوره‌والی له

---

[5]: د شمېر کتاب:۳۸/۳.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

لاسه ورکړ، ځکه چې دا غوره والی په غوره کړنو، اطاعت او پر یوه خدای تعالی باندې د ګروهې پر لرلو تړلی ؤ چې په راتلونکي لیکنه کې به پرې وغږیږو.



(د غزې ترهیدلي ماشومان)

نېټه: ۱۴۰۳/۲/۱۰ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اځږ نوري لیکني په دی لینک کې ولولی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ